# هېڅکله رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د دوو کارونو ترمنځ د ټاکلو واک نه دی ورکړل شوی مګر دا چې د دواړو ترمنځه یې اسان غوره کړی دی، پدې شرط چې ګناه به نه وه، که چېرته به ګناه وه نو تر ټولو لرې انسان به ترې دی و

له أم المؤمنين عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی وایي چې: هېڅکله رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د دوو کارونو ترمنځ د ټاکلو واک نه دی ورکړل شوی مګر دا چې د دواړو ترمنځه یې اسان غوره کړی دی، پدې شرط چې ګناه به نه وه، که چېرته به ګناه وه نو تر ټولو لرې انسان به ترې دی و، او هېڅکله رسول الله صلی الله علیه وسلم په هېڅ شي کې د ځان لپاره غچ نه دی اخیستلی مګر دا چې د الله حرمت به د پښو لاندې شو، نو د الله لپاره به یې غچ اخېسته.

[صحيح دی] [متفق علیه دی]

ام المؤمنين عائشې رضي الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ځینو اخلاقو په اړه خبر ورکړی، او هغه څه چې هغې یې یادونه وکړه دا دي چې: هغه صلی الله علیه وسلم ته هېڅ کله د دوو چارو تر منځ د ټاکنې واک ندی ورکړل شوی، مګر دا چې هغه یې تر منځه (د امت لپاره) آسانه غوره کړې ده، خو چې اسانتیا یې د سرغړونې لامل نه کېده (که داسې به و) نو له هر چا به ترې هغه زیاته ډېره کوله، او هغه مهال به یې سخت غوره کاوه. نبي صلی الله علیه وسلم هېڅکله د خپل ځان لپاره د شخصي غچ اخیستونکی نه و، بلکې بخښنه به یې کوله او (له خپل شخصي حق نه به) تېرېده مګر دا چې د الله حدود به تر پښو لاندې کېدل، نو بیا به یې یوازې د الله لپاره غچ اخیست، او د هر چا په پرتله به د الله لپاره ډېر غوصه کېده.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6389